د ۱۳۸۹ کال د وری دیرشمه

بریالی سرور

## د ایران د مبارزینو شهادت سره د افغانستان دخلکو زړونه هم سوزیږی!

دغوایی په درویشتمه نیټه غرمه مهال دکور خواته روان وم چې دجلال آباد ښارکې د ایران قنسلګری ته نژدې دښځو او نارینه ؤ په ګڼې ګونې مې پام شو چې شعارونه او پلاکارتونه یې په لاس کې نیولی او دایران رژیم او رهبرانو علی خامنه ای او محمود احمدی نژاد ضد او دایرانی پرګنو دآزادی غوښتونکې مبارزې او پنځو زیندی شوؤمبارزینو (فرزاد کمانګر، شیرین هولی، علی حیدریان، فرهاد وکیلی، مهدی اسلامیان) په پلوی یې شعارونه ورکول. ماانګیرله چې ټول عکسونه په ایران کې داعدام شوؤ افغانانو دی خو کله چې نومونه او عکسونه مې دنژدې څخه ولیدل او دلاریونکوونکو اعلامیه مې ولوستله باوری شوم چې یه، داټول نومونه او انځورونه د شهیدو ایرانی ځوانانو دی او دغه دننګرهار څه چې دافغانستان تاریخ کې بې ساری لاریون د «افغانستان دهمبستګی ګوند» له خوا دپنځو ایرانی مبارزینو د دارځړولو پرضد پیل شوی دی.

دعجیبه شانته غرور احساس را ته پیدا شو او داځکه چې نړیوال ګوری چې افغانان که له یوې خوا دایران رژیم محکوموی او بد یې بولی خو له بل لوری دغه ډول په شور زوږ او مینی سره دایران دآزادی غوښتونکو خلکو پلوی او ملاتړ کوی.




خبره خو هغه وخت لاپسې جالبه شوه چې «زمونږ دخلکو په وړاندې دایران رژیم جنایتونه د محقق، خلیلی، محسنی، زریاب، پرتو نادری او د واواک د ټولو مزدورانو مخ توروی!» شعار مې ترسترګوشو.

دا خبره زما په اند ډیره ژوره اوله معنی ډکه وبریښیدله. ځکه په دې خبرې، چې ایران هم د امریکا او پاکستان په ډول دافغانی جاسوسانو او نوکرانو پرته نشی کولای په دې هیواد کې نفوذ ولری او ورانکاری وکړی دافغانستان دهمبستګی ګوند دپوهیدلو څرګندونه یې کوله. ددې خبرې بله مانا دا ده چې پرته د وطنی عواملو په پام کې نیولو څخه به د هربهرنی تیری کوونکی دولت پرضد مبارزه نیمګړی او بې فایدې وی. آیا نورې داسې ډلې به هم وی او راڅرګندې به شی چې دولایت فقیه ضد او دایران آزادی غوښتونکی مبارزې په پلوی سروخوځوی؟

آیا وروسته له دې به نورګوندونه هم په اشغال شوی او مافیاځپلی افغانستان کې سر اوچت کړی چې دایران شریفو مبارزینو سره دپیوستون په موخې شعارونه ورکړی او ددوی دانځورونو اوچتولو ویاړ ولری؟




په لاريون کې ګڼ شمير انځورونه ؤ خو يو شمير يې ډير دپام وړ ؤ: دفرزاد کمانګر دمور لوی انځور چې دخپل شهيد زوی انځور يې غيږ کې نيولی او دنوموړې په دغو زړه بوږنوونکو کلماتو ښکلی شوی ؤ: «زما فرزاد مړشوی نه دی، فرزاد اوس وزيږيد. زه له نن څخه په خپلې دندې پيل کوم... اوس زه په زرګونو نور فرزادونه لرم.»

ځوشيبې مې دغې غمځپلې مور او دهغې خبروته په ځير ځير وکتل او دسترګو اوښکې مې په خپل سر وبهيدلې. په دې فکر کې شوم چې که يوه ورځ دخپل ځوان ورور يا خور دزيندی کيدلو خبرواورم څه حال به راباندې راشی؟ آيا ددغې اتلې مور بې ساري او دغره شانته هسکه استواری به ولرم؟

په هرحال زه چې تراوسه دداسې آزمينت لاندې نه يم راغلی او په اصطلاح مړانه لرل يا نه لرل مې نه دی ثابت شوی دفرزاد دمور دلوړتيا او اتلوالی په وړاندې خپل ځان راته کوچنی ښکاره شو.ترټولو مهمه خوپه دې خبرې زما پوهيدل ؤ چې هروخت يوملت دوينې ځښونکی دينی زورواکی په وړاندې دغه شان مينډې ولری په برياليتوب کې يې شک
شبهه نه شی کيدلای.





بل انځور دفرزاد دځوانی ملګرې شيرين هولی ؤ. ما چې دايران دښځو او نجونو بنديانو کيسې لا پخوا هم ډيرې اوريدلې او لوستلې وې او پوهيدلم چې دايران په وژونکو شکنجه ګاهونو کې څه پرې تيريږی فکر مې کولای شو چې په شهيدې شيرين باندې به څه تير شوی وی.

بيا مې چې وخت وموند او ددغو پنځو شهيدانو په اړه مې پلټنه وکړه وپوهيدلم چې دجمهوری اسلامی دجلادانو له خوا په کراتو تيری وربانډی شوی ؤ. آيا په لاريون کې دګڼ شمير ښځو او نجونو دګډون لامل دشيرين وينې وې؟ دا پوښتنه مې د يوې لاريون کوونکې ښځې څخه وکړه، راته يې وويل: «يه. دشهيدانو ملاتړ نر او ښځه نلری. که په دغوپنځو

شهیدانو کې یوه ښځه هم نه وای مونږ، دهمبستګی ګوند ښځو او نجونو، په لاریون کې ګډون کول خپله د ویاړه ډکه دنده ګڼله.»

کاشکې دغه دقدر وړ او سپیڅلې پوهه زمونږ په ښځو او نارینه ؤکې لاپراخه شی.

دجرثقیل څخه په دار ځړول شوی (دایران رژیم داعدامولو یوه بڼه) مبارز یوې خواته په یوې لوحې باندې لیکل شوی ؤ «نن» او بل لور ته یې دعلی خامنه ای انځور لیدل کیده چې جرثقیل څخه په دار ځړول شوی او ترڅنګ لوحې باندې یې لیکل شوی ؤ «سبا».

رښتیا هم که د ایران رژیم دیرش کلنو جنایتونو ته یو نظر واچوؤ، په ډیرې آسانی سره وړاندوینه کیدای شی چې څه ډول راتلونکی دایرانی چارواکو انتظار باسی، که څه هم دایران دآزادی غوښتونکی غورځنګ دپام وړ برخه دربړونې او اعدام سزا سره مخالفت لری.

په بل ځو متره اوږد کاغذ باندې دخامنه یی سر انځور شوی ؤچې لنګی یې دانسان په کوپړیو پوښل شوې وه...

که وغواړم دټولو انځورونو او شعارونو په اړه څه ولیکم خبره به ډیره اوږده شی.هاغه لوستونکی چې انترنت ته لاس رسی لری کولای شی پخپله دلاریون بې شمیره انځورونه او کلیپونه وګوری.



هغه څه چې غواړم دلته یې په تیره بیا پښتنو لوستونکو ته وړاندې کړم ددغوپنځو شهیدانو په اړه ځو ټکی دی چې په ډاډ سره ویلای شم مونږ ډیری ورڅخه ناخبره یو.ځوروونکې او شرموونکې خبره خو داده چې هرڅومره مې لټون وکړ پرته دافغانستان د ښځو انقلابی جمعیت خپرونې «پیام زن» څخه، چې ډیره موده دمخه یی د فرزاد کمانګر په اړه نسبتا پراخ مطلب خپور کړی ؤ، بله هیڅ یوه افغانی خپرونه مې و نه موندله چې د دوی په اړه یې څه ویلی وی. په دولت او اسلامی جنایتکاره باندونو پورې اړونده خپرونو څخه چې تیر شو، حتی هغه خپرونې هم چې ځان انقلابی بولی او د ارتجاعی ضد اوسیدلو دعوا کوی، د ایرانی پرګنو د پرله پسې مبارزو او د ژوندیو او مړو شوؤ اتلانو څخه ناخبره دی.

دغه وضعیت دپاکستانی مطبوعاتو وضعیت سره ډیر ورته والی لری چې دجمهوری اسلامی پر ضد دایرانی وګړو تقریبا هیڅ خبر اوګزارش هم نه خپروی او کله وخت هم چې دا ناولی دود ماتیږی لامل یې ډله ایز (سنی او شیعه) دریځونه وی. دافغانستان رسنۍ دبنسټپالو جنایتکاره باندونو له ویرې، دطالبی او غوایی اتمی جنایتکارو څیرو په وړاندې ډغرووهلو څخه دومره ډډه او خود سانسوری کوی چې په نړۍ کې ساری نه لری.خو ښکاره نده چې دایران رژیم په وړاندې ولی چپه خوله دی؟ د دې رژیم له وطنی عواملو څخه ویره؟ یا

دولت او خاد او حتی دشورای نظار نوم بدی مزدور، د اطلاعات او فرهنګ وزیر ډاکتر مخدوم رهین او مبارز راشدی نومی واواکی څخه ویره چې خاد هم ورته ګوته په غاښ پاتې دی.

ترټولو کرکجنه خو لاداده چې همدغه رسنی د کریم خرم دوزارت په وخت کې هم چې ګلبدینی کرغیړنتوب او ناولتیا یې په هرګام کې له ورایه بریښیده، هم د ایران رژیم جنایتونو په وړاندې چپه خوله پاتې کیدلې.

د دې دپاره چې خبره اوږده نشی، نشم کولای دایران ددغو پنځو په وینو لړلو ستورو په اړه ډیر څه ولیکم او لکه چې دمخه مې وویل هیله ده لوستونکی په خپل نوښت او هڅو دهغو او دهغوی دهم ځنځیرانو سره لا ډیره آشنایي ومومی.او دژوند، پیکار او بې ساری زړورتیا په اړه یې نورو، دکورنی غړو او خپلو دوستانو ته کیسې وکړی ترڅو هغوی څخه په زده کړې،ددغو عزتمنو وژل شوؤ او ددوی په شان زرګونو نورو په سرمشق ګرځولو سره د امریکایی ځواکونو ضد، دګوډاګی دولت ضد، طالبانو ضد او «ملی جبهې» ضد مبارزې دود زمونږ په هیواد کې رامنځ ته شی.

ددغو شهیدانو او ددوی دملګرو او هم ځنځیرانوانو له خولې اوریدل لاډیر هڅوونکی او ژور دی:

د فرزاد کمانګر دلیک څخه:

«بندی ملګریه، کیدای شی د صمد کیدلو دمیز شاته کښینو او ددې ټاټوبی دبچیانو سترګوته ځیر شو او غلی پاتې شو؟ کولای شو چې ښوونکی واوسو او ددغې خاورې کوچنیو ماهیانو ته د سین لار ور ونه ښییو؟ اوس څه پروا لری که د «ارس» سین وی یا د «کارون»، د «سیروان» سین وی که د «رود سرباز». څه پرواکوی، کله چې موخه مو سین او پیوستون دی، کله چې ښوونکی لمردی، پریږده چې ډالی موهم بندی خانه وی.

کولای شو چې دښوونکی ددندې او تخم شیندلو دروند بار مو پر غاړې پروت وی او چپه خوله پاتې شو؟، کولای شو دزده کوونکو خوارې څیرې او ډک زړونه و ګورو او چپه خوله پاتې شو؟ کولای شو دعدل او نیا و په وچکالی کې ښوونکی و اوسو، خو دهیلو او یوشانته والی «الفبې» تدریس نکړو، آن تردې که لاره په اوین (د ایران ترټولو ستره او ویرونکی بندی خانه- ژباړونکی) او مرګ پای ده ورسیږی؟ زه آن فکر هم نشم کولای چې د «صمد»، «خانعلی» او «عزتی» په ټاټوبی کې ښوونکی واوسو او د «ارس» (د هغه سین نوم چې صمد بهرنګی په هغه کی ډوب او ووژل شو - ژباړونکی) سره تلپاتې نشو. نشم کولای انځور کړم چې ددې خاورې دپرګنو ستونزې او بې وزلی وګورو او یو زړه سل زړه نکړو او پاڅون و نه کړو؟»

فرهاد وکیلی چې فرزاد سره یوځای په دار وځړول شو، بندی خانې څخه په خپل لیک کې داسې لیکی:

په یوه بشپړسیاسی بهیر کې دایران په قضایی سیستم زور اچولو سره داعدام حکم صادر کړای شو او اوس دهغوی دتیروتنې څخه دخلاصون یوائینی لار زما د بخښنې غوښتلو څرګندونه ده... هغوی زما څخه غواړی چې د خپل تیر وخت څخه مخ واړوم.

هو، ډیر ساده. غوښتنه داده چې زه دبخښنې غوښتنې په پاڼې دستخط کولو سره خپل ټول شته تر پښو لاندې کړم. ماته یې ویلی هیڅ شی په خپل ذات کې حقیقت نلری او یوائې ددوی په فرمان هرڅیز حقیقت کیدلای

شی. زما څخه یې غوښتنه کوله داسې انسان واوسم چې هیڅ ډول اراده، اخلاقی دریځ او ټولنیز هویت ونه لری. ډیره هڅه یې وکړه چې ماته د تاریخ هیرولو هنر رازده کړی.

په یوه ملت باندې دکلونو ظلم، ناروا او جنایت هیرولو هنر. ددوی دټولو هغو جنایتونو هیرولو هنر چې دخپلې واکمنۍ دورې کې یې ددین اوملت او هیواد امنیت او داسې نورو غټواو دایران په ملت په تیره بیاد کرد ملت په وړاندې ددوی دجنایتونو توجیه کوونکو، شعارونو په ورکولو سره ترسره کړی دی. دهغه څه برتاق کې اینودلو هنر چې په مااو زما په کورنی باندې یې ترسره کړی دی. هغوی ټینګار کاوه هغه څه حقیقت دی چې نن پیښیږی او دوی دتیر وخت لارښوونکی او ښتنان دی او ویل یې چې په تیر وخت باندې زما ټینګار بې بنسټه دی.

ورځې، هفتې او میاشتې تیرې شوې ترڅو هغوی ومنله چې زه نه غواړم خپل شتون واکمنانو سره داړیکو لرلو دلارې تعریف کړم. مایه خپل وار او دخپل توان په اندازه دخپل تیر ژوند او دخپل ملت د تاریخی هویت په مټ زور ویونکو او مستبدانو ته څرګنده کړه چې په پای کې ستاسو موخه نه ترلاسه کیدونکی ده، او زه به هره شیبه دخپل حق ترلاسه کولو په لارکې پل اوچت کړم...

مجید توکلی، ځوان محصل، چې پخپله هم د اوین په مسلخ کې تر ربړوني لاندې ؤ، داسي لیکي:

ما دخپلې آزادی په ټولو ورځوکې دفرزاد روحیه بخښونکو لیدنو او تود آواز څخه چې زما موریې یواځې نه پریښودله، زده کړل چې یو انسان که په هرځومره بدوشرایطوکې هم وی ترټولو ستر کارونه سرته رسولای شی.

...او زما مشر وروریې وواژه، زما ورور او ښوونکی. دمقاومت ښوونکی او دایران دټولو بچیانو ښوونکی. را یادووم چې دترټولو بدو ربړونو او دوسیې جوړولو په وړاندې درېدلو الفبې مې ورځنې زده کړه؛ دستونزو په وړاندې دانسان ایمان او باور مې زده کړ؛ زده مې کړ چې کیدای شی په بیابیا دپوښتنو ګرویږنو کوټو او یوکسیزو تنګو کوټو کې ژوند دلاسه ورکړو خو دباورونو درناوی وساتو.

ډاکتر سعید ماسوری دفرزاد او ملګرو تراعدام وروسته دګوهر دشت زندان څخه په تل پاتې ویاړ او درناوی ولیکل:

«...کیدای شی فکر وکړی چې په خپلو دارځړولو سره یې مونږ او زمونږ ولس ویرولی دی. ای وای پر مونږ هک زمونږ دملګرو او هیواد والو زیدی کول دلاهځوني پر ځای مونږ وویروی...

ربښتیا په داسې شرایطو کې یواځې دانسان اوسیدلو دپاره پرته دبندی خانې، ربړوني او اعدام له ټیرولو بله لار پاتې نه ده او دیو ځآځکی آزاد اوسیدلو او انسانیت سزا بندی خانه، قمچین او زیندی کول دی څه باید وکړو؟او هغه ځوک چې پر دغه شان جنایت پټه خوله پاتې کیږی دانسان اوسیدلو او نه اوسیدلو لیکه پر کوم ځآی را کاږی؟...

په هردول زه په خپل وار ددې دپاره چې ووایم ددغو اعدامونو څخه څومره ویریدلی یم، چمتو یم چې وروسته ددغو پنځو کسانو، شپږم کس او داعدام دپاره تیار شم!»

بهرام اسماعیل بیگی:

شرمنده یو فرزاده، مونږ بې شرفان شرمنده یو.

شرمنده یو، شرمنده چې و دریدلو او ستا دتللو ننداره مو وکړه.

ومو لیدل چې ګوډګوډ کیدلی خو آواز مو اوچت نشو.

نه پوهیږم ستا دمیني ډکي خندا په لومې کې ښکیل شوی ؤ او که زمونږ دراتللو پښې په تاپسې نه رسیدلې.

نه پوهیږم زمونږ لاسونه لنډؤ او که ته ډیر لوړ وې.

هرڅه ؤ دریدل مو زده کړل او شرم مو تجربه کړ.

هرڅه ؤ وموليدل چې کیدای شی په ولاړو پښو هم ومرو...

مونږ دانسانیت او استقامت ناغیره زده کوونکی یو او تا د دار په سر هم ښوونه وکړه.

عارف نادری:

فرزاد د واکمن خروریتوب په وراندې په چپه خوله نه پاتې کیدلو او چیغې کیدلو، د دوزخ د دروا‌غجن برم او د جنت د دروا‌غجن جلال ښخه پرده واچوله او په خپل استقامت، لیکونو او دریځونو یې یوځل بیا د آزادی،آزاد اوسیدلو او آزاد ژوند په اړه د پایښت او ملاتړ اړتیا ثابته کړه.

هغه مونږ ته را زده کړل چې که تر پرون پورې، زندان دپای ټکی، دچپې خولې سیمه او انفعال ؤ، نن کاملا د هغه برعکس، د ريښتيني مبارزې او مقاومت پیل او پیلامه ده.

بابک داد:

زما په اند، «فرزاد کمانګر» بم اینبودونکی ؤ، منتها هغه بم چې ده کینبود د نورو بمونو سره توپیر لری او هم یې دعمل کولو وخت لا رسیدلی نه دی!

هغه داسې بم نه دی اینبودلی چې ورانی کوی، چې چوی او خلک وژنی. هغه د دې بدمرغه سیمې د کلیوالو بچیانو په کوچنيو زړونو کې دپوهې او مينې تخم کرلی دی. چې جادوګری بم دی، ورانوونکی او نړوونکی نه دی، جوړوونکی دی او اوږد مهاله.

مهدیه ګلرو فعاله زده کوونکې اوسیاسی بندی دشیرین علم هولی تر زیندی کولو وروسته لیکی:

کله چې شيرين يې په ډيرې وارخطايي او پرته د مخه ښې زمونږ څخه بيله کړله، تابه ويل چې د دار طناب هغې ته نارې وهلې او هيله يې لرله د دغه شان عقاب په سترګوکې د ويرې نښه وګورې خو زه ښه پوهيږم چې دشيرين زړورتيا د اوين دنيمې شپې په تيارې او د دار د پړى په کلکوالى ملنډې وهلى. ژوند، پر مختګ او لوستلو سره د شيرين مينه د هغه چا په شان وه چې يواځې څو ورځې يې دبندى کيدلو څخه تيرې شوى او ډير ژر به هم بيرته خوشى شي؟ اى واى چې څرنګه شپه تيره شوه؟ د يکشنبې د سهار نوم لږ زمونږ په اوږو لنګر اچولى ؤ ځکه پوهيدلو چې د بې رحمى لاس يوځل بيا غيرتمنه مبارزه ښځه هغه هم د کردستان د سيمې څخه په دار وخيژوله چې دکردستان غرونه يې هم د استقامت په وړاندې دريدلى نه شول.

دغوايي دنولسمي نيټې اعدامونو د لړى فلم هم دنورو اعدامونو په ډول د اطلاعاتو وزارت د ځانګړى استازى له خوا واخيستل شو، خو حاضرو استازو د هغې صحنې دفلم اخيستلو اجازه ورنکړه چې فرزاد کمانګر د«مرګ وى خامنه اى او ژوندى دې وى آزادى» شعارونه په داسې حال کې ورکول چې په خپله يې د دار پړى په خپلې غاړې کې اچاوه.

دجلال آباد د لاريون په اړه د «روشنګرى»،«پيک ايران» او 7tir.info سايټونو دلوستونکو څو نظره:

پيمان روشن ضمير:

په ريښتيا چې کار يې بې سارى ؤ او دستاينې وړدى. هغه کار چې مونږ په تهران کې د فرزاد د دارځړولو په محکومولو کې ترسره نکړ هغوى په کابل کې ترسره کړ.

لږ پيښيږى چې يو ملت د بل ملت د پاره دغه ډول کار وکړى. سربيره پردې چې په خپلو ملى اعتراضونو پسې ول خو دخپلو ملى نيوکو ترڅ دايران ملت داعتراض سره هم دهوښيارى له مخې ؤ او هم دافغانى اعتراض کوونکو درهبرانو د دوستى او مينې نښه ده چې د ايران ملت او مسالو سره يې لرى.

په يقين سره ويلاى شو چې پرته د مينې او پرته د وروروللى د حس څخه دغه شان پيښې نه رامنځ ته کيږى.

مبين:

يو ريښتينى انقلابى او انسانى حرکت. د ايران آزادى غوښتونکو سره دافغانستان د خلکو ملاتړ، په داسې حال کې چې پخپله هم د زور زياتى په راز راز ځنځيرونو تړل شوى دى، د داد وړ خبره ده او ښيې چې انسانيت ژوندى دى او دګډ درد لرونکى ملتونه د مبارزې په کړاو کې يو بل يواځې نه پريږدى.

حسن آنارشيست:

څومره هيله پاروونکى، څومره ښکلى پيوستون د هغو انسانانو ترمنځ چې ګډ درد لرى او دخپلو حکومتونو له خوا، د مذهبى او غير مذهبى سرى وژونکو ډلو له خوا او په جګړو کې، وژل کيږى، زيندى کيږى او ربړول کيږى او په ډول ډول ځنځيرونو تړل شوى دى.

خو، په دې ډول پيوستونونو، ځو چې د ظلم او زبيښاک ټول ځنځيرونه يو په بل پسې وشلوؤ.

نگران:

افغان هیواد والو،درود پر تاسو. دهغي ورځي په هيله چي دټولو انسانانو ډوډئ او آزادی د ټولو خلکو ترمنځ په مساوی ډول و ویشو. تاسو هریو ښکلوم او دایران خلکو سره ستاسو دپیوستون مننه کوم.

مراد ۱۳۴۹:

د افغانستان پر اتلوخلکو درود. مړدی وی د جمهوری اسلامی امپریالیزم پورې تړلی رژیم.

حجت:

داچي افغانی خویندي او ورونه د رژیم د جنایتونو پره پر اهریمنانو اچوی او پوهیږی چي دایران ملت دهغوی دوست او خواخوږی دی او د ایرانی وژل شوؤ درناوی کوی او ایران کي شرارت کوونکی په ښه توگه پیژنی د خوښی او مننې وړده او د دواړو ملتونو پیوستون پیاوړی کوی.د دواړو ملتونو د آزادی او ټولو ملتونو ته د دموکراسی په هیله.

تارا:

د دواړو رنځیدلو ملتونو دآزادی په هیله، دانسان دوستی دپاره ستاسو لاسونه ښکلوم. هیله لرم ددې عکسونو په لیدلو افغانانو سره زمونږ دځینو وگړو چلند ښه شی او غیرت يې لړ را وپاریږی او دخپل هیواد دآزادی دپاره وخوځیږی.

کیانوش:

دافغان گرانو هم ژبو د فکری بلوغ ځرگندوني په لیدلو خوښ یم. افغانستان او تاجکستان څخه دآذرآبادگان او کردستان تر وروستیو بیلو شوؤ څندو د آریاییانو امپراتوری دبیا جوړیدلو په هیله.

سامان:

په افغان خویندو او ورونو درود، د دواړو ملتونو د آزادی او سرلوړی په هیله.

بهروز:

ژوندی دی وی د ایرانی، کردی، افغانی،عربی خلکو...فاشیزم او بنستپالی ضد ورور ولی.

علی:

درود دافغانستان په اتل، دوست، ورور،زړه سواند او مهربان ملت...تل دی مړه وی طالبان څه په کابل څه په تهران.

رسول:

دایران د قدر پیژندنکو او داغ لرونکو خلکو درود دګران هیواد افغانستان پر زړورو ښځو او نارینه ؤ چې په خپل دغه زړور او غیرتمن خوځښت د آریایانو د بهترینو زړورو زامنو د لاسه ورکولو د زخم پټۍ شول.




اړیکی:

http://telechargement.rfi.fr.edgesuite.net/rfi/persan/audio/modules/actu/201005/persp AfgManifH.mp3

http://benawa.com/details.php?id=35454

http://www.youtube.com/watch?v=7NBCN4Ngu88

http://uk.reuters.com/article/idUKTRE64C13C20100513

http://peykeiran.com/Content.aspx?ID=16771

http://zamaaneh.com/news/2010/05/post_13135.html

پای –